**د افغـــــانستان اســـــلامي امـــارت**

**د ارشـــاد، حج او اوقـــافو وزارت**

**د مساجدو د ارشاد او انسجام رياست**

**د جمعې ورځې د خطابت موضوع او**
**ليکلی تقرير او بيان چې د هيواد دمرکز او ولاياتو**
**ټولو خطيبانو ته په دواړو ملي ژبو (پښتو او دري) کې ليږل کيږي.**

---

**۱۲/ رجب المرجب/۱۴۴۴ هـ، ق موافق د ۱۴/ جدي/۱۴۰۱هـ، ش**

# د قرآن کريم فضيلت، عظمت او درناوی

الحمدلله ولي المتقين، منزل الفرقان الحميد،أحمده سبحانه القائل في محكم التنزيل {إِنَّا نَحْنُ نَزَّلْنَا الذِّكْرَ وَإِنَّا لَهُ لَحَافِظُونَ} وأشهد أن لا إله إلا الله وحده لاشريك له ما من جبار إلا قصمه وما من عدو للدين إلا هزمه وخذله، وأشهد أن نبينا وحبيبنا محمداً عبد الله ورسوله صلى الله عليه وعلى آله وصحبه ومن سار على نهجه إلى يوم الدين وسلم تسليماً كثيراً، أمابعد:

آن کتاب زنده قرآن حکيم     حکمت او لايزال است وقديم
نسخه اسرار تکوين حيات     بی ثبات از قوتش گيرد ثبات
حرف اورا ريب نی تبديل نی     آيه اش شرمنده تأويل نی
نوع انسان را پيام آخرين     حامل او رحمت للعالمين     علامه اقبال لاهوری

قرآن کريم هغه عظيم مقدس کتاب دی کوم چې الله تبارک وتعالی په خپل آخري پيغمبر امام المرسلين سيد الاولين والاخرين محمدرسول الله باندې نازل کړی دی. ددې کتاب د عظمت او اهميت لپاره داخبره هم کافي ده چې دا دخالق کائنات هغه فصيح او بليغ کلام دی کوم چې د هرقسم عيب او نقصان څخه پاک دی او دقيامت پورې راتلونکو انسانانو لپاره هدايت او د ژوند جامع قانون دی چې تراوسه پورې نه چا ددې مقابله کړی او نه به يې ترقيامته پورې وکړي.

د قرآن کريم د عظمت بيانولو څخه انسان عاجز دی؛ مگر هغه عظمتونه چې د قرآن کريم صريح آيتونهورباندې دلالت کوي ځينې يې په لاندې ډول دي:

۱- قرآن کريم د الله جل جلاله کتاب او د ټولو انسانانو د هدايت لپاره راليږل شوی دی. د قرآن کريم څخه مخکې کتابونه به د خاص قوم او محدود وخت لپاره راليږل کيدل؛ مگر قرآن کريم د ټولې نړۍ بشريت ته د وحی د لومړۍ ورځې څخه ترقيامت پورې راستول شوی دی.الله تعالی فرمايلي دي: {تَبَارَكَ الَّذِي نَزَّلَ الْفُرْقَانَ عَلَى عَبْدِهِ لِيَكُونَ لِلْعَالَمِينَ نَذِيرًا} الفرقان:(۱)

ترجمه:- ډير برکتناک دی هغه ذات چې په خپل بنده يې فرقان ( قرآن) نازل کړی دی، ددې لپاره چې دی دخلکو لپاره ويروونکی شي.

۲- قرآن کريم ستر معجز کتاب دی.الله تعالی د انسانانو او پيريانو ته د چيلنج په طور سره وويل چې د يو سورت په اندازه قرآن کريم له ځانه جوړ کړئ؛ ولی د مکې مکرمې فصيح او بليغ خلک ور څخه عاجزه شو او ترقيامت پورې به د قرآن کريم دا اعجاز

جاري وي. الله تعالى فرمايي: {قُل لَّئِنِ اجْتَمَعَتِ الإِنسُ وَالْجِنُّ عَلَى أَن يَأْتُواْ بِمِثْلِ هَذَا الْقُرْآنِ لاَ يَأْتُونَ بِمِثْلِهِ وَلَوْ كَانَ بَعْضُهُمْ لِبَعْضٍ ظَهِيرًا} الاسراء:(۸۸)

ترجمه:- ته ووايه خامخا که انســانان او پيريان په دې خبره سره جمع شي چې دداسې قرآن مثل راوړي (نو) دده په مثل به رانه وړی هيڅ شي اگر که دوی ځيني دځينو نورو ملاتړي( هم) وي.

په يو بل مبارک آيت کې راځي:{أَمْ يَقُولُونَ افْتَرَاهُ قُلْ فَأْتُواْ بِسُورَةٍ مِّثْلِهِ وَادْعُواْ مَنِ اسْتَطَعْتُم مِّن دُونِ الله إِن كُنتُمْ صَادِقِينَ}. يونس: (۳۸)

ترجمه:- آيه دوی وايي چې ده دا له ځانه جوړ کړی دی. ته ( دوی ته) ووايه نو تاسو يو وړوکی سورت دده په مثل راوړئ او له الله نه پرته چې څوک کولی شی راوبلئ که چيرې تاسو رينښتيني يی.

۳- که چيرې قرآن کريم په غر باندې نازل شــوی وی دالله تعالی له ويرې څخه به ټوټه شــوی وو.{﴿لَوْ أَنزَلْنَا هَذَا الْقُرْآنَ عَلَى جَبَلٍ لَّرَأَيْتَهُ خَاشِعًا مُّتَصَدِّعًا مِّنْ خَشْيَةِ الله} الحشر:(۲۱)

ترجمه:- که مونږ دا قرآن په يو غره باندې نازل کړی وی ( نو) تابه خامخا هغه ( غر) ليدلی وای چې ويريدونکی او دالله له ويری نه ټوټې ټوټې کيدونکی به وی.

که چيرې دا قرآن کريم د غر په ځير په ســخت شــی باندې نازل شــوی وای نو حتما هغه به د قرآن کريم د عظمت له امله ويريدلی او چاودلی به ؤ.

۴- قرآن کريم سمې لارې ته خلک رابولي. {إِنَّ هَذَا الْقُرْآنَ يِهْدِي لِلَّتِي هِيَ أَقْوَمُ وَيُبَشِّرُ الْمُؤْمِنِينَ الَّذِينَ يَعْمَلُونَ الصَّالِحَاتِ أَنَّ لَهُمْ أَجْرًا كَبِيراً . وأَنَّ الَّذِينَ لاَ يُؤْمِنُونَ بِالآخِرَةِ أَعْتَدْنَا لَهُمْ عَذَابًا أَلِيمًا}الاسراء: (۹)

ترجمه:- بيشــکه دا قرآن هغې ( لارې) ته ښــودنه کوي چې ترټولو برابره نيغه ده او هغو مؤمنانو ته زيری ورکوي چې نيک عملونه کوي ددې چې يقينا ددوی لپاره ډير لوی اجر دی.

۵- قرآن کريم روح او روښــنايې ده.{ وَكَذَلِكَ أَوْحَيْنَا إِلَيْكَ رُوحاً مِنْ أَمْرِنَا مَا كُنْتَ تَدْرِي مَا الْكِتَابُ وَلا الْأِيمَانُ وَلَكِنْ جَعَلْنَاهُ نُوراً نَهْدِي بِهِ مَنْ نَشَاءُ مِنْ عِبَادِنَا وَإِنَّكَ لَتَهْدِي إِلَى صِراطٍ مُسْتَقِيمٍ} الشورى: (۵۲)

ترجمه:- او همداسې مونږ په امر سره تاته د روح (قرآن) وحی راوليږله ته نه پوهيدلی چې کتاب څه شی دی او نه (پوهيدی چې) ايمان ( څه شی دی) او ليکن مونږ دغه (کتاب) رڼا گرځولی دی چې په ده سره مونږ په خپلو بندگانو کې چې چاته وغواړو هدايت ورکوو او بيشکه يقيناته نيغې لارې ښوونه کوی.
٦- قرآن کريم شفاء ده، پند دی او رحمت دی.{يَا أَيُّهَا النَّاسُ قَدْ جَاءتْكُم مَّوْعِظَةٌ مِّن رَّبِّكُمْ وَشِفَاءٌ لِّمَا فِي الصُّدُورِ وَهُدًى وَرَحْمَةٌ لِّلْمُؤْمِنِينَ} يونس: (۵۷)

ترجمه:- ای خلکو! یقینا تاسو ته د خپل رب له جانبه نصیحت راغلی دی او په سینو کې چې څه (مرضونه) دي دهغو لپاره ستره شفاء ده او د مؤمنانو لپاره هدایت او رحمت دی.

قرآن کریم د ټولو ظاهري او باطني او روحي مرضونو لپاره شفاء ده. په یو حدیث شریف کې راځي:(عَنْ خَارِجَةَ بْنِ الصَّلْتِ التَّمِيمِيِّ عَنْ عَمِّهِ قَالَ أَقْبَلْنَا مِنْ عِنْدِ رَسُولِ اللَّهِ -صلى الله عليه و سلم- فَأَتَيْنَا عَلَى حَيٍّ مِنَ الْعَرَبِ فَقَالُوا إِنَّا أُنْبِئْنَا أَنَّكُمْ جِئْتُمْ مِنْ عِنْدِ هَذَا الرَّجُلِ بِخَيْرٍ فَهَلْ عِنْدَكُمْ مِنْ دَوَاءٍ أَوْ رُقْيَةٍ فَإِنَّ عِنْدَنَا مَعْتُوهًا فِي الْقُيُودِ قَالَ فَقُلْنَا نَعَمْ. قَالَ فَجَاءُوا بِمَعْتُوهٍ فِي الْقُيُودِ - قَالَ - فَقَرَأْتُ

عَلَيْهِ فَاتِحَةَ الْكِتَابِ ثَلاَثَةَ أَيَّامٍ غُدْوَةً وَعَشِيَّةً كُلَّمَا خَتَمْتُهَا أَجْمَعُ بُزَاقِي ثُمَّ أَتْفُلُ فَكَأَنَّمَا نُشِطَ مِنْ عِقَالٍ قَالَ فَأَعْطَوْنِي جُعْلاً فَقُلْتُ لاَ حَتَّى أَسْأَلَ رَسُولَ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- فَقَالَ: كُلْ فَلَعَمْرِي مَنْ أَكَلَ بِرُقْيَةِ بَاطِلٍ لَقَدْ أَكَلْتَ بِرُقْيَةِ حَقٍّ). سنن أبى داود

حضرت خارجه بن الصلت د خپل تره نه روایت نقل کوي ، دده دا تره وایي چې مونږ د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه بیرته راتلو نو زمونږ تیریدل د عربو په یوه قبیله باندې وشو، هغوی مونږ ته وویل: مونږ ته دا خبر راکړی شوی( یعنی مونږ ته معلومه شوی ده)

چې تاسو د نبي علیه السلام نه خیر راوړې دی، آیا د تاسو سره څه دَوا یا دَم شته ؟ ځکه د مونږ سره یو لیوني دی په زنځیرونو تړل شوې دی( که د هغې علاج او شي نو ډیره به ښه وي) مونږ ورته وویل : هو! (مونږ سره ددې علاج شته) ، نو هغوی مونږ ته دغه لیونې راوست چې په زنځیرونو تړل شوې ؤ د حضرت خارجه بن الصلت دا تره وایي چې ما درې ( ۳ ) ورځې په دې لیوني باندې سهر او ماښام سورة فاتحه لوستله ( یعنی په سورة فاتحه مې دمولو) ، کله به مې چې سورة فاتحه ختمه کړه نو په خُله کې به مې لاړې جمعه کړی او په دې لیوني به مې پوک و هلی، په دې دَم سره دا داسې جوړ شو ګویا دا چا د پړي نه پرانیستې دی ( یعنی مکمل روغ شو ) . بیا هغه خلقو ما له ددې بدله ( أجرت ، شکرانه) راکړه ، ما ورته وویل : زه تر هغه وخته پورې دا نه اخلم تر څو پورې چې زه د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه ددې متعلق پوښتنه وکړم، (ما د نبي علیه السلام نه ددې متعلق پو ښتنه وکړه) ، ر سول الله صلی الله علیه و سلم زما د پو ښتنې په جواب کې ماته وفرمایل : (كُل فَلَعَمْرِي مَنْ أَكَلَ بِرُقْيَةِ بَاطِلٍ لَقَدْ أَكَلْتَ بِرُقْيَةِ حَق) دا او خوره ، قسم په الله ، ډیر بد هغه دی چا چې په ناجائزه دم اچولو سره څه و ګټل او وې خواره ، او تا خو په حقه سره دم اچولی دی او د هغه دم په برکت سره تا وخواره ( نو دا جائز دی او ددې خوراک صحیح دی ) .

امام رازي رحمه الله په تفسیر کبیر کې یوه واقعه را نقل کړی چې د روم " قیصر " حضرت عمر رضي الله عنه ته یو خط را ولیږه ، په هغې کې قیصر لیکلي وو :(إنَّ بي صداعا لایسکن فابعث لي دواءً) زما په سر باندې همیشه درد وي او په هیڅ علاج سره نه ښه کیږي ، تاسو ماته څه دوایي را ولیږئ . نو حضرت عمر رضي الله عنه یوه خولۍ ورولیږله (او ورته وه یې ویل چې دا په سر کوه ) قیصر به چې کله دا خولۍ په سر کیښوده نو د سر درد به یې ختم شو ، خو چې کله به یې د سر نه را لرې کړه نو د سر درد به یې دوباره را پیدا شو، دې ډیر حیران شو ( چې په دې خولۍ کې څه کمال دی؟ چې ددې په سر کولو سره د سر درد ختمیږي) ، ده چې داخولۍ وسپړله او وه یې کته نو یو کاغذ یې په کې پیدا کړو ، په هغې باندې " بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيْمِ " لیکلي ؤ.

۷- قرآن کریم د باطل څخه مصـــئون دی.{وَإِنَّهُ لَكِتَابٌ عَزِيز. لاَ يَأْتِيهِ الْبَاطِلُ مِن بَيْنِ يَدَيْهِ وَلاَ مِنْ خَلْفِهِ تَنزِيلٌ مِّنْ حَكِيمٍ حَمِيد} . فصــلت:(۴۲) ترجمه: یقینا دغه ( قرآن) خامخا ډیر قوی کتاب دی باطل ده ته نه دده له مخې نه راتلای شي او نه دده د شا نه دا ډیر د رحمت والا ښه ستایل شوی (الله) له جانبه راليږل شوی دی.
۸ - د قرآن کریم د تحریف او تبدیل څخه محفوظ دی.د قرآن کریم له نزول څخه تر نن وخت پوری د هر ډول تحریف څخه محفوظ دی. دالله تعالی له لوری چې نور کوم کتابونه نازل شـوي دي هغو دا عظمت نه درلود، ځکه د قرآن کریم حفاظت الله تعالی په خپله ذمه اخيستی دی، دنورو کتابونو حفاظت د يهودو علماوو او د نصاراوو علماوو ته سپارل شوی ؤ چې دخلکو له خوا په کي تحريفونه رامنځ ته شوي دي.الله تعالی فرمايلي دي:{إِنَّا نَحْنُ نَزَّلْنَا الذِّكْرَ وَإِنَّا لَهُ لَحَافِظُون} الحجر:(۹)
ترجمه:- بیشکه همدا مونږ په خپله ذکر نازل کړی دی او بیشکه مونږ دده خامخا ساتونکي يو.
د تورات حفاظت احبارو ديهودو علماوو ته ســپارل شــوی ؤ چې هغوی دا مســؤوليت پوره نکړ؛ ددې امله تورات کې دومره لاسوهنه ، تحريف، تغير او تبديل وشو چې سړی نشي ويلی چې دا هغه تورات دی چې په موسی عليه السلام نازل شوی دی.
عن عكرمة، أن النبي صــلّى الله عليه وســلّم قرأ على الوليد بن المغيرة إِنَّ اللَّهَ يَأْمُرُ بِالْعَدْلِ وَالْإِحْسـانِ وَإِيتاءِ ذِي الْقُرْبى وَيَنْهى عَنِ الْفَحْشــاءِ وَالْمُنْكَرِ إلى آخر الآية. فقال له: يا ابن أخي أعد عليَّ، فأعاد عليه، فقال: «والله يا ابن أخي إن له لحلاوة، وإن عليه لطلاوة، وإن أعلاه لمثمر، وإن أسفله لمغدق، وما هذا بقول البشر» . تفسير السمرقندي
ترجمه:- د عکرمه رضي الله عنه څخه روايت دی چې يوه ورځ نبي عليه السلام په وليد بن مغيره باندې دا آيتونه ولوستل: (إِنَّ اللَّهَ يَأْمُرُ بِالْعَدْلِ وَالْإِحْسانِ وَإِيتاءِ ذِي الْقُرْبى وَيَنْهى عَنِ الْفَحْشاءِ وَالْمُنْكَرِ إلى آخر الآية) وليد بن مغيره وويل:
ای وراره بيا يې راته ووايه، پيغمبرعليه السلام بيا دا آيتونه تکرار کړل. بيا وليد بن مغيره وويل: ای وراره قسم په الله چې په دې کې ډير خوږوالی پروت دی، په دې کې ډير ښايست او رونق پروت دی، لوړوالي ميوه لرونکی دی او ښکته والی کې يې ډير ژور والی پروت دی او نه دی دا د انسان وينا.
۹- قرآن کریم واضـحه او ښـکاره کتاب دی چې خلک د جهل له تيارو څخه روښـنايې ته را باسي .{قَدْ جَاءكُم مِّنَ اللهِ نُورٌ وَكِتَابٌ مُّبِين. يَهْدِي بِهِ اللهُ مَنِ اتَّبَعَ رِضْوَانَهُ سُبُلَ السَّلاَمِ وَيُخْرِجُهُم مِّنِ الظُّلُمَاتِ إِلَى النُّورِ بِإِذْنِهِ وَيَهْدِيهِمْ إِلَى صِرَاطٍ مُّسْتَقِيم} المائدة: (۱۵-۱۶)
ترجمه:- بیشکه تا سو ته دالله له جانبه رڼا او رو ښانه کتاب راغلی دی چې په ده سره د سلامتی دلارو هدايت کوي هغه چاته چې د هغه (الله) د رضا تابع وي او هغه په خپل حکم سره دوی لره له تيارو نه رڼا ته راوباسي او دوی ته د نيغې لارې هدايت کوي.
۱۰- د قرآن کريم آيتونه محکم دي:{الَر كِتَابٌ أُحْكِمَتْ آيَاتُهُ ثُمَّ فُصِّلَتْ مِن لَّدُنْ حَكِيمٍ خَبِير} هود: (۱)
ترجمه:- الر (دا) کتاب دی چې آيتونه يې محکم کړی شـوي دي بيا د ښـه حکمت والا پوره خبردار ذات له خوا نه په تفصـيل سره بيان شوي دي.
۱۱- قرآن کریم هغه سپيڅلې کتاب دی چې په لوح محفوظ کې پروت دی:{بَلْ هُوَ قُرْآنٌ مَّجِيد . فِي لَوْحٍ مَّحْفُوظ} البروج:(۲۱-۲۲)
ترجمه:- بلکې دغه د لوی قدر والا قرآن دی په لوح محفوظ کې دی.
۱۲- قرآن کریم د حق او باطل ترمنځ فيصله کوونکی کتاب دی.{إِنَّهُ لَقَوْلٌ فَصْلٌ . وَمَا هُوَ بِالْهَزْلِ} الطارق: (۱۴)
ترجمه:- بیشکه دا ( قرآن) يقينا ( دحق او باطل) بيلونکي وينا ده او داهيڅکله عبث ( او ټوکو) خبره نه ده

۱۳-قرآن کریم ته په نورو کلامونو باندې فضیلت حاصل دی. حدیث قدسي دی نبي علیه السلام فرمایي چې الله جل جلاله فرمایلي دي.(فَضْلُ كَلَامِ اللَّهِ عَلَى كَلَامِ خَلْقِهِ، كَفَضْلِ اللَّهِ عَلَى خَلْقِهِ) سنن الترمذی، سنن الدارمي

ترجمه:- دالله د کلام فضیلت په نورو کلامونو باندې داسې دی لکه دالله فضیلت چې په خپلو مخلوقاتو دی.

۱۴- د بسم الله د تعظیم په وجه د دواړو جهانو سعادت حاصلیدل.

امام رازي رحمه الله په تفسـیر کبیر کې د بشرـ الحافي رح واقعه را نقل کړی چې : دې روان و ، نو په لاره کې يې يو کاغذ وموند چې په هغې باندې بِسْـمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيمِ ليکلې شـوی ؤ ، ده هغه کاغذ را پورته کړ ، صـفا يې کړ ، په مشـکو يې معطر کړ او بيا يې تبر کړ . د شپې يې خوب وليده ، په خوب کې ورته يو ويونکې وايي : (يَا بِشْرُ- طَيَّبْتَ إِسْـمَنَا فَنَحْنُ نُطَيِّبُ إِسْمَكَ فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ. اي بشره ! تا زمونږ د نوم تعظيم وکړ، نو مونږ به په دنيا او آخرت کې ستا نوم اوچت کړو . ( او تاته به عزت درکړو ) .

حضرـت علي رضي الله عنه يو کس وليده چې بِسْـمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيمِ يې ليکله ، نو ورته يې وفرمايل : دا ښـه صـفا او خوشخطه ليکه ، ځکه يو سړي دا خوشخطه ليکله نو الله تعالی هغه وبښلو .

د شاه عبدالعزيز رحمه الله او د عيسايي واقعه:

يو وخت په متحده هندوسـتان کې د دهلي په چوک کې يو عيسائی راغی او اعلان يې وکړو :اي مسلمانانو ! تاسو وايی چې زمونږ قرآن په حقه دی ، را شئ نن ما د مقابلې دپاره خپل انجيل راوړې دی ، تا سو خپل قرآن راوړی ، دواړه کتابونه به دې اور ته واچوو ، که د چا کتاب او نه سوزيده هغه به په حقه وي او د چا کتاب چې و سوزيده هغه به په ناحقه وي .

عيسـائي په چوک کې ولاړ دی ، او بار بار دا اعلانونه کوي ، مسـلمانان حيران ولاړ دي، يو کس په منډه باندې د مسـلمانانو عالم " شـاه عبد العزيز رحمه الله " ته ورغی، هغه په خپله کتب خانه کې مطالعه کوله، دې کس ورته وويل : شـاه صـاحب ! مسلمانان په ډير لوي امتحان کې ګير شوي.

شاه صاحب ورنه پوښتنه وکړه چې څه چل دی ؟ ده ورته وويل :د دهلي په چوک کې يو عيسائي ولاړ دی او بار بار مسلمانانو ته دا اعلان کوي : اي مسـلمانانو ! تاسـو وايی چې زمونږ قرآن په حقه دی، نو تاسـو خپل قرآن راوړی ، ما هم خپل انجيل راوړی ، دواړه کتابونه به دې اور ته ور واچوو ، که کوم کتاب و نه سوزيده هغه به په حقه وي . شاه صاحب ورته وويل وارخطاء کيږه مه ، دا دومره غټه خبره نه ده .شاه صاحب راروان شو، کله چې د دهلي چوک ته را ورسيده ، عيسائي ولاړ دی، ده ورنه پوښـتنه وکړه : عيسـايی ! څه خبره ده؟ هغه ورته وويل : زه مقابلې ته راغلې يم، تاسـو خپل کتاب " قرآن مجيد راوړی، او ما هم خپل کتاب " انجيل " راوړې دی ، دواړه کتابونه به دې اورته وغورځوو ، که ستا سو کتاب او سوزيده نو تا سو به په ناحقه يی ، او که زمونږ کتاب و سوزيده نو مونږ به په ناحقه يو . شاه صاحب خو دده په دهو که باندې پوهه شو ، ورته يې وويل: دا دومره غټه خبره نه ده، کتاب غورځول بي ادبي ده ، ته به خپل کتاب د سينې سره ونيسی او زه به خپل کتاب د سينې سره

ونیســـم او دواړه به دې اور ته ننوځو ، که ته وســـوزیدی نو ته به په ناحقه یی ، او که زه و ســـوزیدم نو زه به په ناحقه یم. عیسائي چې دا خبره واوریده نو وه یې ویل : داسې مقابله خوزه نشـم کولی . دا یې وویل او د چوک نه یې منډه کړه. خلقو را ونیوه ، ورته یی وویل : چې اوس به خامخا مقابله کوی . عیســایې ورته وویل : زه معافي غواړم ما په خپل کتاب پورې څه داسې مساله ( دوایي ) مبتلې ده چې دا اور نه سوزوي، او په جسم مې نه ده مبتلی ، لهذا زه دا مقابله نشم کولی ، دا یې وویل، د چوک نه یې منډه کړه او لاړ و تختیده.

دا ښـــکاره خبره چې د کلام عظمت د متکلم نه معلومیږي ، متکلم چې د کومې درجې وي دده کلام به هم په همغه درجه وي. په عربي کې مشهور متل دی چې ( قدر الشهادة بقدر الشهود) که شاهدان ریښتوني وی شهادت به یې ریښتونی وي او که شاهدان کمزوري وی، ددوی شهادت به یې هم کمزوری وي.

د قرآن کریم ســـل نومونه دي چې دا د دې کتاب په عظمت دلالت کوي. امام فیروزآبادي وایې: د یو شي زیات نومونه د هغه په شرف او کمال دلالت کوي.[بصائر ذوی التمییز]

## د قرآن کریم فضیلت او عظمت په آحادیثو کې :

د قرآن کریم فضیلت او عظمت په آحادیثو کي ذکر شوی دی.

۱-قرآن داســـې عظیم کتاب دی چې ورته کتل هم عبادت دی ، اوریدل یې هم عبادت دی، بل ته یې اورول هم عبادت دی، ددې په خپله زده کول هم عبادت دی، بل ته یې ښـــودل هم عبادت دی، ددې تلاوت هم عبادت دی، ددې حفظ کول هم عبادت دی ، په دې ځان پوهه کول هم عبادت دی او په دې باندې عمل کول هم عبادت دی.

عن عَبْد اللهِ بْن مَسْعُودٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ يَقُولُ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: مَنْ قَرَأَ حَرْفًا مِنْ كِتَابِ اللهِ فَلَهُ بِهِ حَسَنَةٌ وَالْحَسَنَةُ بِعَشْرِ أَمْثَالِهَا؛لاَ أَقُولُ: الم حَرْفٌ وَلَكِنْ أَلِفٌ حَرْفٌ وَلاَمٌ حَرْفٌ وَمِيمٌ حَرْفٌ).رَوَاهُ التِّرْمَذِي

په یو حدیث شریف کې راځي: د عبدالله بن مسـعود رضـی الله عنه څخه روایت دی چې رسـول الله صـلی الله علیه وسـلم فرمایلي دي: چاچې ولوســـتلو د قرآن کریم یو حرف هغه لره د هغه لپاره یوه نیکي ده او یوه نیکي په لس چنده ده . زه دا نه وایم چې آلم یو حرف دی؛ بلکې الف یو حرف دی، لام بل حرف دی او میم بل حرف دی.

په حدیث شریف شریف کې راځي:(أفضـل عبادة أمتي قراءة القرآن). مسـند الشـهاب ترجمه: زما د امت بهتره عبادت د قرآن کریم تلاوت دی.

۲- قرآن کریم د ژوند دهرې برخې لپاره جامع قانون دی او ددې قانون تقاضـا داده چې ددې احکام د ژوند په هره برخه کې عملي شي. د حضرـت علي کرم الله وجهه څخه روایت دی.(عَنْ عَلِيٍّ أنه قال: أَمَا إِنِّي قَدْ سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: أَلَا إِنَّهَا سَتَكُونُ فِتْنَةٌ. فَقُلْتُ: مَا الْمَخْرَجُ مِنْهَا يَا رَسُولَ اللَّهِ؟ قَالَ: كِتَابُ اللَّهِ فِيهِ نَبَأُ مَا قَبْلَكُمْ وَخَبَرُ مَا بَعْدَكُمْ، وَحُكْمُ مَا بَيْنَكُمْ، وَهُوَ الْفَصْلُ لَيْسَ بِالْهَزْلِ، مَنْ تَرَكَهُ مِنْ جَبَّارٍ قَصَمَهُ اللَّهُ، وَمَنْ ابْتَغَى الْهُدَى فِي غَيْرِهِ أَضَلَّهُ اللَّهُ، وَهُوَ حَبْلُ اللَّهِ الْمَتِينُ،

وَهُوَ الذِّكْرُ الحَكِيمُ، وَهُوَ الصِّرَاطُ المُسْتَقِيمُ، هُوَ الَّذِي لَا تَزِيغُ بِهِ الأَهْوَاءُ، وَلَا تَلْتَبِسُ بِهِ الأَلْسِنَةُ، وَلَا يَشْبَعُ مِنْهُ العُلَمَاءُ، وَلَا يَخْلَقُ عَلَى كَثْرَةِ الرَّدِّ، وَلَا تَنْقَضِي عَجَائِبُهُ، هُوَ الَّذِي لَمْ تَنْتَهِ الجِنُّ إِذْ سَمِعَتْهُ حَتَّى قَالُوا: {إِنَّا سَمِعْنَا قُرْآنًا عَجَبًا يَهْدِي إِلَى الرُّشْدِ} [الجن: ٢] مَنْ قَالَ بِهِ صَدَقَ، وَمَنْ عَمِلَ بِهِ أُجِرَ، وَمَنْ حَكَمَ بِهِ عَدَلَ، وَمَنْ دَعَا إِلَيْهِ هَدَى إِلَى صِرَاطٍ مُسْتَقِيمٍ) سنن الترمذي، سنن الدارمي

ترجمه:- ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه اوریدلي دي چې فرمایل یې: خبردار! بیشکه فتنه واقع کیدونکې ده.

ما ورته وویل: د دغې فتنې څخه خلاصون څنګه ترلاسه کیږي؟ هغه وفرمایل: د الله تعالی په کتاب باندې په عمل کولو سره چې په هغه کې تر تاسو وړاندې پیښښي دي او ستاسو څخه ورو سته خبرونه او ستاسو په منځ کې ( دحلال او حرام وغیره) حکم دی او ( حق او باطل) په منځ کې پریکړه کوونکی قول دی او هغه ټوکې نه دي. کوم متکبر چې قرآن پریښود، نو هغه به الله هلاک کړي او چاچې د قرآن کریم څخه پرته په بل شي کې هدایت ولټولو الله به هغه ګمراه کړي ، قرآن کریم دالله تعال ټینګه او سیده رسۍ ده ، قرآن کریم دحکمت څخه ډک ذکر او بیان دی او قرآن کریم یوه داسې سیده لار ده چې په هغه کې کوږوالی نشته او ددی په پیروي سره په خواهشاتو کې کوږوالی نه پیښیږي او د قرآن کریم په ژبه کې د یوې بلې ژبې اقتباس نشته، ددی فصاحت هیڅ کلام نشي رسیدلی او علماء ددې په ویل نه مړیږي او قرآن په ( تل ویلو) سره نه زړیږي او ددی عجائب نه ختمیږي او قرآن کریم یو داسې کلام دی چې کله پیریانو واورید نو د یوې لمحې ددریدو څخه پرته یې وویل: مونږ عجیب او غریب قرآن واوریده چې د هدایت لاره ښیي له دې کبله مونږ ایمان راوړ او چاچې د قرآن سره سم وویل؛ نو ریښتیا یې وویل اوچاچې عمل پرې وکړ نو هغه ته به ثواب ورکړ شي اوچاچې ددې سره سمه پریکړه وکړه هغه انصاف وکړ او چاچې د قرآن په لور خلک راوبلل هغه ته سیده لار وښودل شوه.

۳- په قرآن کریم سره الله تعالی عزت ورکوي . په یو حدیث شریف کې راځي: وَ{ أَنّ نَافِعَ بْنَ عَبْدِ الْحَارِثِ لَقِيَ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُما بِعُسْفَانَ وَكَانَ عُمَرُ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ يَسْتَعْمِلُهُ عَلَى مَكَّةَ فَقَالَ: مَنْ اسْتَعْمَلْتَ عَلَى أَهْلِ الْوَادِي؟ فَقَالَ: ابْنَ أَبْزَى. قَالَ: وَمَنِ ابْنُ أَبْزَى؟ قَالَ مَوْلًى مِنْ مَوَالِينَا. قَالَ: فَاسْتَخْلَفْتَ عَلَيْهِمْ مَوْلًى! قَالَ:إِنَّهُ قَارِئٌ لِكِتَابِ اللهِ عَزَّ وَجَلَّ وَإِنَّهُ عَالِمٌ بِالْفَرَائِضِ} قَالَ عُمَر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ: أَمَا إِنَّ نَبِيَّكُمْ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَدْ قَالَ : إِنَّ اللهَ يَرْفَعُ بِهَذَا الْكِتَابِ أَقْوَامًا وَيَضَعُ بِهِ آخَرِيْن).رَوَاهُ مُسْلِم وَابْنُ مَاجَه.

ترجمه:- حضرت نافع بن عبدالحارث د حضرت عمررضي الله عنه سره په عسفان مقام کې مخامخ شوچې هغه لره عمررضي الله عنه په مکه مکرمه باندې امیر مقرر کړی ؤ. حضرت عمررضي الله عنه ورته وویل: په دې ځای مکه مکرمه باندې دې څوک مقرر کړ؟ حضرت نافع رضي الله ورته وویل: هلته مې ابن ابزی مې پریښود. حضرت عمر رضي الله ورته وویل: ابن ابزی څوک دی؟

نافع رضي الله ورته وویل: زمونږ دغلامانو څخه یوغلام دی. حضرت عمر رضي الله عنه ورته وویل: آیا تا په مکه مکرمه باندې یو غلام مقرر کړی دی؟ حضرت نافع رضي الله ورته وویل: هغه د کتاب الله حافظ دی او د میراث په علم کې ماهر دی. حضرت عمررضی الله عنه ورته وویل: مګر ستاسو نبي علیه السلام فرمایلي دي: بیشکه الله تعالی اوچتوي په دې کتاب سره ځینې قومونه او ښکته کوي په دې کتاب سره نور قومونه ( چې عملورباندې ونه کړي).

۴- د قرآن کريم تلاوت زيات اجر او ثواب لري.(عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: الْمَاهِرُ بِالْقُرْآنِ مَعَ السَّفَرَةِ الْكِرَامِ الْبَرَرَةِ وَالَّذِيْ يَقْرَأُ الْقُرْآنَ وَيَتَتَعْتَعُ فِيْهِ وَهُوَ عَلَيْهِ شَاقٌّ لَهُ أَجْرَانِ).متفق عليه

ترجمه:- په قرآن کې ماهر شخص به په آخرت کې د عزتمندو ملائکو سره وي او هغه شخص چې قرآن کريم لولي او ژبه يې په کې بنديږي او ورباندې ګران وي ده لره دوه اجره دي.

۵ - د قرآن کريم تلاوت روښنايي ده.(عَنْ أَبِيْ ذَرٍّ رَضِيَ اللهُ تَعَالَى عَنْهُ قَالَ : قُلْتُ: يَا رَسُوْلَ اللهِ أَوْصِنِيْ: قَالَ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : عَلَيْكَ بِتَقْوَى اللهِ، فَإِنَّهَا رَأْسُ الْأَمْرِ كُلِّهِ. قُلْتُ : يَا رَسُوْلَ اللهِ زِدْنِيْ . قَالَ : عَلَيْكَ بِتِلَاوَةِ الْقُرْآنِ ، فَإِنَّهُ نُوْرٌلَكَ فِي الْأَرْضِ، وَذُخْرٌ لَّكَ فِي السَّمَاءِ). رواه ابْن حِبّان .ترجمه: د ابو ذر رضي الله عنه څخه روايت دی هغه وايې ما رسول الله صلی الله عليه وسلم ته ووېل: ماته وصيت وکړه. پيغمبرعليه السلام وفرمايل: په تا باندې تقوی لازم ده، بيشکه تقوی د کار سر دی. ما ورته ووېل: نور هم راته ووايه. پيغمبرعليه السلام وفرمايل: په تا لازم دی د قرآن کريم تلاوت، بيشکه د قرآن کريم تلاوت ستا لپاره روښنايي ده په ځمکه کې او ذخيره ده ستا لپاره په آسمان کې.

٦- قرآن کريم به د قيامت په ورځ شفاعت کوي. عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا ، أَنّ رَسُولَ اللهِ صلى الله عليه و سلم قَالَ :( الصِّيَامُ وَالْقُرْآنُ يَشْفَعَانِ لِلْعَبْدِ ، يَقُولُ الصِّيَامُ : رَبِّ إِنِّي مَنَعْتُهُ الطَّعَامَ وَالشَّهَوَاتِ بِالنَّهَارِ فَشَفِّعْنِي فِيهِ ، وَيَقُولُ الْقُرْآنُ : مَنَعْتُهُ النَّوْمَ بِاللَّيْلِ فَيُشَفَّعَانِ).رَوَاهُ أَحْمَدُ وَالْحَاكِم

ترجمه:- د عبدالله بن عمرو رضی الله عنه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي: روژه او قرآن کريم به شفاعت کوي د بنده . روژه به وايې چې ای ربه زما! منع کړی ؤ مادا شخص د خوراک او شهوت څخه په ورځ کې پس ما شفاعت کوونکی وګرځوه دده په حق کې او قرآن کريم به وايې : ما منع کړی ؤ په شپه کې له خوب څخه . بيا به دواړه شفاعت کوونکي وګرځول شي.

په يو بل حديث کې راځي: (يجيءُ القرآنُ يومَ القيامة، فيشفع لِصاحبه، فيكون قائداً إلى الجنَّة، أو يشهد عليه، فيكون سائقاً إلى النار) . مصنف ابن ابي شيبه

ترجمه:- رابه شي قرآن کريم په ورځ د قيامت کې او شفاعت به کوي خپل صاحب لره، وي به دا قرآن کريم چې را کاږي به يې جنت ته او يا به شهادت ورکوي دده پر ضد او قرآن کريم به يې راکاږی اور ته.

عَنْ جَابِرٍ رَضِيَ اللهُ تَعَالَى عَنْهُ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ : (الْقُرْآنُ شَافِعٌ مُشَفَّعٌ، وَمَاحِلٌ مُّصَدَّقٌ، مَنْ جَعَلَهُ أَمَامَهُ قَادَهُ إِلَى الْجَنَّةِ ، وَمَنْ جَعَلَهُ خَلْفَ ظَهْرِهِ سَاقَهُ إِلَى النَّارِ).رَوَاهُ ابْن حِبَّانَ

ترجمه:- قرآن کريم به قبول شوی شفاعت کوي او ريښتونی کو ښښ کوونکی دی، څوک چې يې له ځانه مخکې کړي جنت ته به يې راکاږي او چاچې شاته کړ را به کاږي اور ته( جهنم).

۷- څوک چې قرآن کريم زده کړي په ورځ د قيامت به دده مور اوپلار ته تاج ور په سر کړل شي.

په حديث شريف کې راځي: (مَنْ قَرَأَ الْقُرْآنَ وَعَمِلَ بِمَا فِيهِ أُلْبِسَ وَالِدَاهُ تَاجًا يَوْمَ الْقِيَامَةِ ضَوْءُهُ أَحْسَنُ مِنْ ضَوْءِ الشَّمْسِ فِي بُيُوتِ الدُّنْيَا).أبو دَاود والْحَاکِم

ترجمه:- څوک چې قرآن کريم قرائت کړي او د هغه په حکمونو عمل وکړي دده مور او پلار ته به تاج ورپه سر کړی شي ، دهغه تاج روښنايي به د هغه لمر د روښنايې څخه زياته وي چې ددنيا په کورونو کې وي.

۸ - په جنت کې به لوړه مرتبه د قرآن کريم د حافظ وي.

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ قَالَ: يُقَالُ لِصَاحِبِ الْقُرْآنِ: اقْرَأْ وَارْتَقِ وَرَتِّلْ كَمَا كُنْتَ تُرَتِّلُ فِي الدُّنْيَا فَإِنَّ مَنْزِلَتَكَ عِنْدَ آخِرِ آيَةٍ تَقْرَأُ بِهَا ).التِّرمذي، وأبو داود

ترجمه:- د عبدالله بن عمرو رضي الله عنه څخه روايت دی هغه د نبي عليه الســلام څخه روايت کوي چې نبي عليه الســلام داســې وفرمايل: د قيامت په ورځ به د قرآن کريم والا ته وويل شي چې قرآن کريم قرائت کوه او پورته خيژه او قرآن تلاوت کوه لکه چې دنيا کې دې تلاوت کولو، بيشکه ستا ځای به دآخري آيت د لوستلو سره وي چې ته يې لولی.

يعنی څومره چې د قرآن کريم آيتونه په هغه اندازه به ستا درجه لوړه وي.

۹- د قرآن کريم خلک د الله تعالی خاص خلک دي.

عن أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: (إِنَّ لِله أَهْلِينَ مِنَ النَّاسِ. قَالُوا: وَمَنْ هُمْ يَا رَسُولَ اللهِ؟ قَالَ: أَهْلُ الْقُرْآنِ هُمْ أَهْلُ اللهِ وَخَاصَّتُهُ).رَوَاهُ النَّسَائِي

ترجمه:- انس بن مالک رضي الله عنه وايې چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي بيشکه په خلکو کې ځينې کسان خاص دالله تعالی خلک دي.صحابه وو وويل: هغه کوم خلک دي ای دالله رسـوله؟ پيغمبرعليه السـلام وفرمايل: د قرآن والا خلک خاص دالله تعالی خلک دي.

۱۰- څوک چې قرآن کريم لولي او عمل ورباندې کوي ارذل عمر ته به نه رسيږي.

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ تَعَالَى عَنْهُما قَالَ:مَنْ قَرَأَ الْقُرْآنَ لَمْ{يُرَدُّ إِلَى أَرْذَلِ الْعُمُرِ لِكَيْ لاَ يَعْلَمَ بَعْدَ عِلْمٍ شَـيْئاً } وَذَلِكَ قَوْلُهُ عَزَّوَجَلَّ:ثُمَّ رَدَدْنَاهُ أَسْفَلَ سَافِلِينَ إِلَّا الَّذِيْنَ آمَنُوْا" قَالَ: إِلَّا الَّذِيْنَ قَرَأُوا الْقُرْآ.) . رَوَاهُ الْحَاكِم

ترجمه:- د عبدالله بن عباس رضي الله عنه څخه روايت دی هغه فرمايي: څوک چې قرآن کريم لولي ناکاره ژوند (ارذل عمر) ته به نه رسـيږي دا ځکه چې الله تعالی فرمايلي دي:(ثُمَّ رَدَدْنَاهُ أَسْـفَلَ سَـافِلِيْنَ إِلَّا الَّذِيْنَ آمَنُوْا) هغه ددې آيت په معنی کې وفرمايې: مگر هغه کسان چې قرآن کريم لولي.

۱۱- د قرآن کريم په تلاوت سره د رحمت ملائکې نازليږي.

په يو حديث شريف کې راځي: (عَنْ أُسَيْدِ بْنِ حُضَيْرٍ قَالَ بَيْنَمَا هُوَ يَقْرَأُ مِنَ اللَّيْلِ سُورَةَ الْبَقَرَةِ وَفَرَسُهُ مَرْبُوطَةٌ عِنْدَهُ إِذْ جَالَتِ الْفَرَسُ فَسَكَتَ فَسَكَتَتْ فَقَرَأَ فَجَالَتِ الْفَرَسُ فَسَكَتَ وَسَكَتَتِ الْفَرَسُ ثُمَّ قَرَأَ فَجَالَتِ الْفَرَسُ فَانْصَرَفَ وَكَانَ ابْنُهُ يَحْيَى قَرِيبًا

مِنْهَا فَأَشْفَقَ أَنْ تُصِيبَهُ فَلَمَّا اجْتَرَّهُ رَفَعَ رَأْسَهُ إِلَى السَّمَاءِ حَتَّى مَا يَرَاهَا فَلَمَّا أَصْبَحَ حَدَّثَ النَّبِيَّ ؟ فَقَالَ اقْرَأْ يَا ابْنَ حُضَيْرٍ اقْرَأْ يَا ابْنَ حُضَيْرٍ قَالَ فَأَشْفَقْتُ يَا رَسُولَ اللهِ أَنْ تَطَأَ يَحْيَى وَكَانَ مِنْهَا قَرِيبًا فَرَفَعْتُ رَأْسِي وَانْصَرَفْتُ إِلَيْهِ فَرَفَعْتُ رَأْسِي إِلَى السَّمَاءِ فَإِذَا مِثْلُ الظُّلَّةِ فِيهَا أَمْثَالُ الْمَصَابِيحِ فَخَرَجَتْ حَتَّى لاَ أَرَاهَا قَالَ وَتَدْرِي مَا ذَاكَ قَالَ لاَ قَالَ تِلْكَ الْمَلاَئِكَةُ دَنَتْ لِصَوْتِكَ وَلَوْ قَرَأْتَ لأَصْبَحَتْ يَنْظُرُ النَّاسُ إِلَيْهَا لاَ تَتَوَارَى مِنْهُمْ) صحيح البخاري.

ترجمه:- اسيد بن حضير رضي الله عنه فرمايې چې ده لوستلو په يوه شپه کې سورت بقره او دده آس تړلی ؤ د هغه په خوا کې ناڅاپه آس ولړزيده اسيد بن حضير غلی شو آس هم ارامه شو، بيا يې لوستل شروع کړل آس بيا ولړزيده کله چې هغه غلی شو آس هم ارامه شو ، بيا يې قرائت شروع کړ بيا آس ولړزيده ، هغه ورغلی چې دهغه زوی يحيی د آس سره نږدې ؤ وويريده چې آس ورته کوم زيان ونه رسوي، کله چې يې يحيی زوی راکش کړ سر يې پورته کړ آسمان لوری ته، تر دې چې څه يې ونه ليدل.

کله چې صبا شو پيغمبرعليه السلام ته يې دا واقعه بيان کړه پيغمبرعليه السلام ورته وفرمايل: لوله ای ابن حضيره! لوله ای ابن حضيره! ابن حضير ورته وويل: ای دالله رسوله زه وويريدم ددې نه چې يحيی آس د پښو لاندې نکړي او هغه د آس سره نږدې ؤ، سر مې پورته کړ او د قرائت نه د هغه خواته وروګرځيدم، سر مې پورته کړ دآسمان لوری ته ناڅاپه ګورم په شان د وريزی سايه ده په آسمان کې چې په هغې کې دڅراغونوپه شان شيان دي زه بيا دکوره ووتلم ترڅو وه يې نه وينم .پيغمبرعليه السلام وفرمايل: آيا ته پوهيږی چې هغه څه شی ؤ؟ ماورته وويل : نه ! پيغمبرعليه السلام وفرمايل: دا ملائکې وی نږدې راغلی وې ستا قرائت ته ، که چيرې تا قرائت جاري ساتلی وی صبا شوی به ؤ خلکو به ورته کتل او نه به وی پټې شوی ددوی نه.

په يو بل حديث کي راځي: عَنْ أَبِى هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِىِّ -صلى الله عليه وسلم- قَالَ:(مَا اجْتَمَعَ قَوْمٌ فِى بَيْتٍ مِنْ بُيُوتِ اللَّهِ تَعَالَى يَتْلُونَ كِتَابَ اللَّهِ وَيَتَدَارَسُونَهُ بَيْنَهُمْ إِلاَّ نَزَلَتْ عَلَيْهِمُ السَّكِينَةُ وَغَشِيَتْهُمُ الرَّحْمَةُ وَحَفَّتْهُمُ الْمَلاَئِكَةُ وَذَكَرَهُمُ اللَّهُ فِيمَنْ عِنْدَهُ). سنن أبى داود

ترجمه:- د ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت چې ر سول الله صلی الله عليه و سلم فرمايلي دي هيڅ قوم دالله تعالی په کوم کور (مسجد) کې نه کيني چې دالله تعالی کتاب لولي او هغه تدريس کوي ؛ مګر په دوی باندې اطمينان او سکون نازليږي او د رحمت ملائکې ورته راځي او الله تعالی ددوی ذکر هغه چاته کوي چې له هغه سره دي.

۱۲- د قرآن کريم چې په کومه سينه کې وي هغه ته د جهنم اور نه رسيږي.

په يو حديث شريف کې راځي: (لَوْ أَنَّ الْقُرْآنَ جُعِلَ فِي إِهَابٍ ثُمَّ أُلْقِيَ فِي النَّارِ مَا احْتَرَقَ). مسند أحمد

ترجمه:- که چيرې قرآن کريم په يوه څرمن کې واچول شي او بيا په اور کې واچول شي وبه نه سوزي قرآن کريم لره.

محدثين ددې حديث په معنا کې وايې : ددې حديث څخه مراد د مسلمان زړه دی په کوم زړه کې چې قرآن کريم وي د جهنم اور به يې ونه سوزوي.

۱۳- په جناتو او پیریانو دقرآن کریم تاثیر: د انسـانانو څخه علاوه په جناتو باندې قرآن کریم تاثیر لري او جناتو د قرآن کریم په تاثیر باندې اعتراف کړی او د قرآن کریم د عظمت بیان یې کړی دی، هغوی داسې وویل:(إنا سمعنا قرآناً عجباً، یهدي إلی الرشد فآمنا به ولن نشرك بربنا أحدا) الجن: (۱ – ۲)

۱۴- په زړونو باندې د قرآن کریم تاثیر. حضرت فضیل بن عیاض رحمه الله چې جلیل القدر تابعي دی ، دهغه په اړه راځي چې هغه به مخکې لارې شکولی، هغه په یوه ښځه باندې عاشق شو، یوه شپه په هغه ښځه پسې پر دیوال اوچتیدلو، ترغوږه یې شـــول چې یو څوک داآیت تلاوت کوي: (ألم یأن للذین آمنوا أن تخشـــع قلوبهم لذکر الله) کله چې هغه داآیت واورید، وه یې ویل : بلی! ای زما ربه همدا اوس هغه وخت دی او د هغه قصـد څخه راوګرځید. شـپې یوې خرابې ته ورسـولو ګوري چې په خرابه کې مسافر دي.ځینو یې وویل: ځئ چې ځو، نورو وویل: دلته تم کیږو ترڅو صبا شي ځکه په لاره کې فضیل دی وبه مو شکوي. هغه وایې فکر می وکړ ومی ویل چې زه ټوله شپه په ګناهونو پسې ګرځم، وګوره دا مسلمانان هم زما څخه ډاریږي زه الله تعالی دوی ته ددې لپاره راوســتم چې دخپلو بدو وګرځم. ای الله ! ما د ګناهونو څخه توبه وویســتله او خپله توبه به می د بیت الله شریف په څنګ کې اوسیدل وي.

## د قرآن کریم درناوی کول:

قرآن کریم د الله کلام دی؛ څوک چې د قرآن کریم درناوی کوي دالله تعالی درناوی کوي او څوک چې د قرآن کریم درناوی او احترام نه کوي، د الله تعالی قدر او احترام نه کوي.علماوو د قرآن کریم په درناوي او ادابو کې مستقل مستقل کتابونه لیکلي دي.

بناءً پر مونږ لازم دي چې د الله تعالی د کلام درناوی او احترام وکړو. صحابه کرامو دقرآن کریم زیات درناوی کولو او دصحابه وو څخه وروسته تابعینو او تبع تابعینو د قرآن کریم زیات احترام کولو.

امام ابوالعالیه رحمه الله په باره کې راځي چې کله به هغه د قرآن کریم د لوستلو اراده وکړه، هغه به لونګۍ وتړله او څادر به یې په ځان کړ او مخ په قبله به کیناســـت. امام نووی رحمه الله لیکلي دي : علماوو د قرآن کریم په تعظیم کولو اجماع کړی ده.[التبیان فی آداب حملة القرآن]

په الفتاوی الهندیة کې راځي: کوم شـــخص چې ددې اراده وکړي چې قرآن کریم تلاوت کړي ، په کارده چې په بهتره حالت کې یې تلاوت کړي ، خپلې غوره جامې دې واچوي، لونګۍ دې په سر کړي او قبلې ته دې مخ واړوي ؛ ځکه دقرآن کریم تعظیم او دفقهې کتابونو تعظیم واجب دی.

هغه کړنې چې په هغې سره د قرآن کریم درناوی حاصلیږي په لاندې ډول دي:

۱-کله چې قرآن کریم تلاوت کیږي باید غوږ ورته ونیسو. الله تعالی فرمایلي دي:(وَإِذَا قُرِئَ الْقُرْآنُ فَاسْتَمِعُواْ لَهُ وَأَنصِتُواْ لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُونَ) الاعراف: (۲۰۴) ترجمه: کله چې قرآن کریم لوستل کیږي هغه ته غوږ ونیسئ او هغه ته چوپ شئ د دی لپاره چې پرتاسو رحم وکړی شي.

۲-کله چې وغواړو چې قرآن کریم تلاوت کړو د ټولو نه مخکې باید اودس وکړو ، او مســواک اســتعمال کړو، ځکه الله تعالی فرمایلي دي:(لا يَمَسُّهُ إِلَّا الْمُطَهَّرُونَ)الواقعة: (۷۹) نه دې لمس کوي دا قرآن مگر پاک خلک.

۳-په پاک ځای کې مخ په قبله په عاجزۍ سره کیناستل . ۴-د جامو د پاکوالي لحاظ ساتل . ۵-قرآن مجید په اوچت ځای کې کیښودل . ٦-د تلاوت کولو نه مخکې آعوذ بالله او بســم الله ویل. ۷- په قلاره قلاره ، تدبر ، تفکر او تجوید سره تلاوت کول. ۸- قرآن مجید په ذوق ، عاجزی او حضــور قلب سره لوســتل . ۹-په زړه کې د الله تعالی د عظمت ، او د قرآن کریم د تعظیم لحاظ ســاتل . ۱۰کله چې د عذاب آیتونه راشي نو د مغفرت دعا او د عذاب نه پناه غوښــتل په کار دي ، او چې کله د رحمت آیتونه راشي نو د رحمت دعا غوښتل په کار دي.۱۱- د تلاوت په دوران کې که انسان ته ژړا نه ورځي نو د ژړا صورت اختیارول په کار دي ۱۲-په قرآن مجید کې کتلو سره تلاوت په کار دي؛ ترڅو په دې عبادت کې سترگې او نور آندامونه هم شریک شي او په دې سره حضور قلب هم پیدا کیږي .۱۳-. د خپل وس مطابق په خوش آوازی سره لوستل په کار دي ، خو د سندرو په طرز قرآن مجید ویل بې ادبي ده ، ددینه ځان ساتل په کار دي .۱۴- د سجدې د آیت په لوستلو سره سجده کول واجب ده. ۱۵-کله چې قرآن مجید ختمیدو ته نزدې شي نو خپل رشته دار او متعلقین راغوښتل په کار دي ، ددې د پاره چې هغوی هم د قرآن د ختم په دعا کې شریک شي ، ځکه په دې وخت کې دعاگانې قبلیږي . ١٦-بې اودســه قرآن مجید بلا غلافه راخیســتل نه دي په کار . ۱۷- په نجس او مکروه ځایونو کې تلاوت کول مکروه دی . ۱۸- د تلاوت په دوران کې دنیاوي خبرې کول نه دي په کار ، که ضرورت وي نو آیت دې پوره کړي ، قرآن مجید دې بند کړي او بیا دې خبرې وکړي؛ خو چې کله بیا تلاوت شروع کوي؛ نو ورته آعوذ بالله او بســم الله ویل په کار دي . ۱۹- په کوم مجلس کې چې خلق په څه بل کار مشـغول وي ، یا هلته شور او غوغا وي نو هلته تلاوت کول نه دي په کار، البته که بل ځای نه ؤ نو بیا په دې مجلس کې په پټه تلاوت کول په کار دي؛ خو که ټول خلق چپ ناســت وو، د تلاوت آوریدو ته یې شــوق و او چاته په اوچت آواز تلاوت کولو سره تکلیف نه رسیده نو بیا په اوچت آواز سره تلاوت کولو کې کوم حرج نشته.

۲۰- تکیه لږولو سره یا په ملاسته تلاوت کول اگر چې جائز دی؛ لیکن افضل او ادب دادی چې په ناسته تلاوت وشي .... ۲۱ - زر زر او گډ وډ تلاوت کول نه دي په کار ، ځکه په دې کې صرف د قرآن مجید د ختمیدو د نوم نه علاوه بله فائده انسان ته په گوتو نه ورځي . ۲۲- د هغو خلکو څخه د قرآن کریم لرې ســاتل چې دهغوی څخه د قرآن کریم د بې حرمتۍ ویره وي؛ لکه کافر، ماشوم او لیونی. ددې وجې نه فقهاوو لیکلي دي چې سنگرته د قرآن کریم وړل نه دي په کار؛ ځکه ددې ویره شته چې کفار به د قرآن کریم بې حرمتي وکړي.۲۳ -باید قرآن کریم په ناســته ولوســتل شي.۲۴ -په قرآن کریم تکیا کول او د سر لاندې کول ، د قرآن کریم بې حرمتي ده په یو روایت کې راځي:(لَا تَتَوَسَّدُوا الْقُرْآنَ) [مصنف عبدالرزاق].۲۵ -په ځمکه باندې قرآن کریم ایښودل د تعظیم مخالف کاردی.۲٦-که چیرې قرآن کریم دومره ضـعیف شي چې لوسـتل په کې نه کیږي باید په پاک او خالي ځای کې دفن کړی شي. ۲۷-د قرآن کریم په هغو شــیانو لیکل نه دي په کار چې د اهانت ویره په کې وي لکه دیوال باندې لیکل په ځمکه لیکل اوداسې نور.[نوادرالأصول للحکیم]

## د قرآ ن کريم بي احترامي کفر دی:

**دا چې قرآن کريم د اسلام مبارک دين د شعائرو څخه دی، ددې بې احترامي کول او اهانت کول کفر دی.**

امام نووي رح وايې : د ټول امت په دې اجماع ده چې د قرآن کريم تعظيم او ساتنه واجب ده په مطلق ډول سره.او د ټول امت په دې اجماع ده څوک چې د قرآن کريم د يو حرف څخه منکر شو او يايې په مصحف کې داسې حرف زيات کړ چې هيچا نه لوستلو او په دې خبره هغه پوره عالم ؤ داسې شخص کافر دی. د ټول امت په دې اجماع ده چې څوک د قرآن کريم سپکاوی وکړي او يا د قرآن کريم د يوشی سپکاوی وکړي او يا د مصحف سپکاوی وکړي او يا مصحف په ګندګۍ کې واچوي او يا دقرآن کريم د کوم حکم او خبر تکذيب وکړي او يا هغه څه نفی کړي چې قرآن کريم ثابت کړی وي او يا دقرآن کريم په کوم شی کې شک وکړي او په دې عالم ؤ ، داسې شخص کافر دی.[المجموع شرح المهذب]